# دا څنګه کار کوي: د LEO™ ټولګی

## د 1 په 1 مرستې د غوښتنې لپاره له متخصصو ښوونکو سره اړیکه ونیسئ


LEO
LEARNER ENGAGEMENTS ONLINE

د Tutor.com له لارې متخصص ښوونکي کولای شي د ستونزمنې کورنۍ دندې د سوالانو په حل کولو، د لیکلو د مهارتونو په بهبود، د آزموینې لپاره په مطالعه کې، د پیچلي مفهوم په بیاکتنه او ډېرو نورو برخو کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## په ژوندۍ بڼه د ښوونې ګام په ګام لارښود

### 1 ګام: پیل یې کړئ


1. خپل Clever حساب ته داخل شئ
2. په ښوونیزو لارښوونو ("Instructional Resources") باندې کلیک وکړئ
3. د Tutor.com په آیکن باندې کلیک وکړئ




### 2 ګام: مناسب ښوونکي پیدا کړئ او خپل ښوونیزه ناسته پیل کړئ

له ناستې مخکې ګړندۍ پوښتنپاڼه ډکه کړئ. له دغو معلوماتو څخه په استفادې سره به موږ تاسو له هغه لومړني موجود ښوونکي سره پرتله کړو چې ستاسو د مرستې لپاره په غوره توګه په شرایطو پوره وي.

په چټکه توګه له په زړه پورې ښوونکي سره د وصلېدو لپاره د لېږلو **SUBMIT** په تڼۍ باندې کلیک وکړئ.





### 3 ګام: اړیکه ټینګه کړئ

تاسو په آنلاین ټولګي کې له خپل ښوونکي سره د اړیکې ټینګولو لپاره کولای شئ له کتبي یا غږیز چټ څخه استفاده وکړئ. تاسو او ستاسو ښوونکی همدارنګه کولای شئ د کار او نظریاتو د شریکولو لپاره متقابلې سپینې تختې څخه استفاده وکړئ.

د ټولګي ټول فعالیتونه د ارزونې او کیفیت د کنټرول په موخه ثبتیږي. ټرانسکرپټونه به وروسته زما په حساب کې د بشپړو شوو ناستو تر ټب لاندې موجود وي.


### 4 ګام: فایل شریک کړئ

تاسو کولای شئ د سپارل شوي دندې یا فعالیت اړوند فایلونه آنلاین ټولګي ته پورته کړئ — لکه اسناد، د ایکسپل پاڼې، د پرېزنټېشن سلایډونه، سکرین شاټونه، تصویري فایلونه او ډېر نور. تاسو او ستاسو ښوونکی به وکولای شئ د درس په جریان کې دغه فایلونه وګورئ.




### 5 ګام: د خپلې ښوونیزې ناستې رتبه بندي او ارزونه وکړئ

له هرې ښوونیزې ناستې وروسته ډاډ حاصل کړئ چې موږ ته خبر راکړئ چې زموږ کار څنګه دی! سروې بشپړه کړئ او خپلې تبصرې شریکې کړئ. تاسو به بیا وکولای شئ د خپلې ښوونیز ناستې ثبت شوی غږیز فایل پلې کړئ او خپل چټ لاګ او سپینې تختې د بریښنالیک له لارې واستوئ یا یې پرینټ کړئ.





Pittsburgh Public Schools
Students first
*Always, in all ways.*

LEO
a support platform by
tutor.com
A Service of The Princeton Review


The Princeton Review له پرینسټن پوهنتون سره تړاو نلري.

# ځانګړي وسیلې وکارئ





په ټولګي کې ګرافیکي د ماشین حساب، د کوډ کره کتونکی، او د متن کره کتونکی شتون لري چې کولای شئ پر موضوعي موادو باندې د کار کولو پر مهال چې ځانګړو وسیلو ته اړتیا لري، استفاده ځنې وکړئ. تاسو کولای شئ له سپینې تختې د پاسه له ټنیو څخه په استفادې سره یې پرانیزئ.

# خپله پاڼه وسپارئ





د تحویلۍ د لیکلو د ارزونې خدمات تاسو ته دا امکان چمتو کوي ترڅو پرته له دې چې له واقعي ښوونیزې ناستې سره وصل شئ، له ښوونکي څخه تخصصي مرسته ترلاسه کړئ. د خپلې سپارلې دندې مسوبه اپلوډ کړئ — په هر پړاو کې چې یاست — او د یوې ورځې په جریان کې مفصل فیډبک ترلاسه کړئ. د خپل ښوونکي بشپړه بیا کتنه زما په حساب کې د حساب تر سابقې لاندې ترلاسه کړئ.

# د آزموینې لپاره تمرین وکړئ




زموږ له تمریني آزموینو څخه استفاده وکړئ ترڅو ستاسو پوهه وارزوو او د ریاضي، ساینس، او انګلیسي د راتلونکو آزموینو لپاره چمتووالی ونیسئ. امتحان ورکړئ، خپلې پایلې وارزوئ، او له ښوونکي سره وصل شئ ترڅو هغه پوښتنې مرور کړئ چې کېدای شي له لاسه مو ورکړې وي.

# زما حساب وکاروئ




- هغو فایلونو ته چې ذخیره کړي مو دي یا هغو فایلونو ته چې په ښوونیزو ناستو کې مو له ښوونکو سره شریک کړي، تر لاکر لاندې لاسرسی ومومئ.
- د خپلې خوښې وړ له ښوونکو سره بیاځلې وصل شئ یا په د خوښې وړ ښوونکو باندې په کلیک کولو سره ووینئ چې هغوی کله د لاسرسي وړ ګرځي.
- د پخوانیو ښوونیزو ناستو ارزونه وکړئ او تر بشپړو شوو ښوونیزو ناستو لاندې د تحویلۍ د ارزونو په هکله فیډبک ترلاسه کړئ.

Pittsburgh Public Schools
Students first
Always, in all ways.

LEO
a support platform by tutor.com
A Service of The Princeton Review

The Princeton Review له پرینسټن پوهنتون سره تړاو نلري.